# ما و پېژنئ

## قلندر مومند

د عيسي عليه السلام نه دوه زره کاله اول چې د نړۍ په مخ تهذيب او تمدن خړپوسي کولي نو د وسط ايشيا په ميدانونو، غرونو، درو او رغو کښې زما د تهذيب غږؤ.

د تاريخ د زمانې د شروع کېدو نه اګاهو چې اريا ګانو مشرق او مغرب ته هجرتونه وکړل نو زما ملت ما ته د وطن پرېښودو اجازت رانهٔ کړو چې سکندر اعظم د يونان نه راتلو نو زما تهذيب ته حېران شوے ؤ او چې د اسلام نمر راوختو نو صرف او صرف زما کور داسې ځائے ؤ چې ټول پرې روښانه شو حتي چې د اسلام کور عرب کښې لا هم داسې ګټونه وو چې په کښې تيارې وسېږي.

د عباسيانو او فاطميو په پېښه کښې زهٔ وم چې د حق ملګرتيا او د انصاف مرسته مې کړې ده. دا زهٔ وم چې د اسلام د ناموس دپاره مې د سر نه کفن تاؤ کړے ؤ او د نړۍ په ګټ ګټ کښې جنګېدم. دا زهٔ وم چې د سومنات بوتان مې مات کړل او ابراهيمي او محمدي سنت مې تازه کړل. دا زهٔ وم چې د پاکې پښتونخوا د ورشوګانو غرونو او رغو نه راوچت شوم او په ټول هند خور شوم.

دا زهٔ وم چې په هند کښې مې د اعلي اخلاقي قدرونو د عمارت بنياد کېښودو او په خپلووينو مې تل تر تله دغه عمارت ولاړ او مضبوط وساتلو.

دا زهٔ وم چې د قامي جرګو په صورت کښې مې د اولس والي بېرغ هغه وخت ټينګ نيولے ؤ چې د نړۍ د جمهوريت په ابجد هم نهٔ پوهېدهٔ!.

دا زهٔ وم چې په اوولسمه صدۍ کښې مې د قام، وطن او ملت په نوم د حق او صداقت په ځائے هغه وينې توئې کړې چې نن پرې د ټول مشرق د ملي تحريک مانۍ بنا ده.

دا زهٔ وم چې هند کښې مې هغه وخت د اسلام مانۍ ته د خپلو هډونو او وينو پُشتي وتړله چې د سازشونو، دسيسو او غداريو چينجو د دغه مانۍ لهړۍ کاږهٔ کړې او دېوالونه وراستهٔ کړي وو.

دا زهٔ وم چې د پېښور، مردان، سوات، پنجتار او بالاکوټ په شګلنه زمکه مې د خپلو وينو سېلاب وبهولوو چې د غېرت زړې زرغون او د ننګ فصل سمسور شي.

دا زهٔ وم چې د ګوېګناري پوځونو سره مې هغه وخت پنجه اچوله چې د هند د وسېدونکو د اکثريت لاسونه د ګوېګناري د قوم زنو ته رسېدلي وو.

دا زهٔ وم چې د خپلې وينې په لار مې په هند کښې د انقلاب تحريک روان کړو.

دا زهٔ وم چې د قيصه خوانۍ بازار او د کجورۍ ميدان مې په خپلو وينو ګلرنګ کړو چې د ازادۍ د ګلاب کلۍ پرې وټوکېږي.

دا زهٔ وم چې د اپريدو، مومندو، وزيرو او محسودو په غرونو کښې مې د پېرنګي هغه غاړې ته لاس واچولو چې د کبره کړه وه.

دا زهٔ وم چې د ازادۍ غوښتو په جرم کښې مې په ټکر، هاتي خېل او کوهاټ کښې د خپلو وينو هرجانه ورکړه.

دا زهٔ وم چې د پښتون د پګړۍ د ګټلو دپاره مې د خپل عزت قرباني ورکړه!.

دازهٔ وم چې د پښتونخوا په حرمت مې د بابړې په ميدان کښې خپل درانهٔ درانهٔ مشران، غوړګي زلمي کچه کچه ځوانۍ پخې پخې کورنۍ او سترمنې زنانه د ازادۍ د ناوې نه وځرخولې او-

او دا زهٔ يم چې د کروړ، شهاب الدين غوري او شېرشاه نمسے يم چې د ايمل، دريا او خوشحال بابا وارث يم چې د ميرويس، ابدالي او اکبر خان وينه يم چې د بخت خان او حافظ رحمت خان يادګاريم چې د باچا خان سپاهي يم. ما وپېژنئ، زهٔ پښتون يم.

په دوېم ځل اووهٔ ورځنے "پښتون" پېښور د ۸ نه ۱۵ جون ۱۹۹۲ء.